د افغانستان اسلامي امارت

**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**

**د دفتر عمومي رياست**

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادري مهر: ۱۴۶۰ نېټه ۱۴۴۷/۰۴/۰۲

**گڼه:** **نېټه:** / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د سوداگرۍ او صنعت محترم وزارت ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د عدلیې له محترم وزارت سره د سهامي شرکت د قانون مسودې د اصولي مراحلو د ترسره کولو په موخه**

د ا.ا.ا د اقتصادي کمېسیون د ۱۴۴۶/۰۸/۲۷ نېټې د اتمې گڼې مصوبې په شپږم بند کې د سهامي شرکتونو د قانون په اړه داسې پرېکړه شوې ده: **«د اقتصادي معاونیت په مشرۍ د چارو ادارې لوی ریاست، مالیې، عدلیې، کانونو او پټرولیم، صنعت او سوداگرۍ، اقتصاد وزارتونو، د افغانستان بانک او د امارتي شرکتونو لوی ریاست څخه جوړه کمېټه دې د سهامي شرکت او صکوکو لپاره قانون جوړ او اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.»**

د ا.ا.ا د اقتصادي کمېسیون د پورتنۍ پرېکړې د تحقق په موخه دې معاونیت د ۱۴۴۶/۱۲/۲۷ نېټې ۵۴۸۱ گڼې مکتوب په اساس د پورتنیو ادارو له استازو سره ناستې ترسره او د سهامي شرکت د قانون لومړنۍ مسوده نهایي شوه.

په دې اساس موضوع ستاسې محترم وزارت ته در واستول شوه؛ هیله ده د سهامي شرکتونو د قانون اړوند مسوده د عدلیې له محترم وزارت سره شریکه او تعقیب کړئ. والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**
**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**
**د مقام د دفتر عمومي رئیس**

کاپي:
د اقتصادي چارو محترم ریاست